# د افغانستان له پاره د نړیوال بانک د مؤقتي تګلارې د سند لنډیز
# ۱۳۸۸ ـ ۱۳۹۰ هـ ش(۲۰۰۹- ۲۰۱۱م)

(i) دافغانستان له پاره دمؤقتي تګلارې سند په داسې شرایطو کې وړاندې کیږي چې په هیواد کې دسیاسي ډاډ نشتوالی او ورځ ترورځې زیاتیدونکې ننګونې او چیلنجونه شتون لري. په پام کې دي چې دجمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو ټاکنې د ۲۰۰۹م کال داګست په میاشت کې او ورپسې دملي شورا (پارلماني) ټاکنې په ۲۰۱۰م کال ترسره شي . نور نړیوال اضافي سرتیري هم ژر افغانستان ته راشي او وړاندوینه کیږي چې امنیتي شرایط ددې پرځای چې ښهٔ والی ومومي، لاپسې خراب شي. دمؤقتي تګلارې ددې سند موخه او هدف د دهیواد دشرایطو او دنړیوال بانك دګروپ پرپروګرامونو او فعالیتونو د هغود اغیزو او د فعالیتونو له پاره د هیواد په دغسې ناډاډمنو او خطرناکو شرایطو او چاپیریال کې دنړیوال بانك دګروپ د نوې تګلارې او ستراتیژۍ له لارې د ملاتړ وړ ساحو معلومولو او پیژندلو ته کلې کتنه ده.

(ii) د افغانستان شرایط اوس هم په فوق العاده ډول له ستونزو، ننګونو او چیلنجونو څخه ډك پاتې دي. په هغو سیمو کې اړدوړ او شورشونه،چې دمخه نسبتاً په امن وې، مخ په زیاتیدودي او امنیتي شرایط دهیواد په ډیرو سمیو او ساحو کې کړکیچن دي. ددولت مخالفین او اړ دوړ رامینځته کوونکي له ډیرو منظمو او کلکو بریدونو څخه کار اخلي. داپینو اقتصاد له تاوتریخوالي او د اداري فساد سره یو ځای په پراخه پیمانه شتون لري. دحکومت کولو په اداره او ظرفیت کې کمزورتیا شته او دقانون حاکمیت او عملي کیدل تراوسه نه دي بنسټیز شوي. په پراخه پیمانه د اداري فساد شته والي، څه دجنایي فعالیتونو دملاتړ او څه هم له مجازاتو څخه دورځ تورځې زیاتیدونکي معافیت له فرهنګ څخه دبرداشت له لارې ددولت مشروعیت دخلکو په نظر کې کمزوری کړی دی. ددولت او نړیوالې ټولنې دمرستو پایلې او نتیجې هم په مجموع کې دخلکو دزیاتو هیلو په وړاندې له ډیرې ټیټې اندازې څخه برخمنې دي. له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې مرستې په خوره وره بڼه ترسره شوي او دهغو منابعو دوه پر دریمه برخه، چې هیواد ته راځي، ددولت له بودجې څخه دباندې لګول کیږي.

(iii) له ستونزو او ننګونو سره سره، افغانستان په ډیرو برخو کې د کتنې وړ پرمختګونه هم کړي دي، لکه: دروغتیا، ښوونې او روزنې، کوچنیو پورونو، اوبولګولو، کلیوالي اقتصاد او دلوی اقتصاد دسمې ادارې او همدارنګه دعامه مالي ادارې په برخو کې تدریجي ښه والی رامینځته شوی دی، چې داټول ترلاسه شوی بریالیتونه دافغانستان دبیا رغونې له پاره دنړیوالې ټولنې دسترملاتړ او دزیات شمیر افغاني متشبثینو ، چې په ډیرو ستونزمنو شرایطو کې د خپلو خدمتونو وړاندې کولو ته دوام ورکوي، او همدارنګه په کلیدي او مهمو برخو کې د پیاوړې لارښوونې او رهبرۍ څرګندوی دي. هغه منابع چې د بریالیو ملي پروګرامونو له پاره برابر شوي دي، ځانګړې او فوق العاده اغیزه یې لرلې، چې په ټول هیواد کې خلکو ته ورسیږي او دمیلونونو افغانانو ورځنې ژوند ته ښه والی ورکړي. دبیلګې او مثال په ډول: دملي پیوستون پروګرام، چې اوس په ټول هیواد کې ۲۲۰۰۰کلي او کلیوالي سیمې (دټول نفوس په سلوکې۶۸) دکلیو دمنتخبو پرمختیایي شوراګانو له لارې ترخپل پوښښ لاندې راولي. دې پروګرام ډیرې ښې پایلې او نتیجې لرلې، چې دهغه په اساس دهیواد د کلیو او باندو استوګني په دې توانیدلي چې دخپلو پرمختیایي لومړیتوبونو په برخه کې پخپله تصمیم ونیسي. خو دغه فوق العاده پایلې او نتیجې هم په دغو ټولو کلیو کې یوازې او یوازې دپرمختیایي هلو ځلو اوهڅو دلومړني پړاو او دورې له امله دي.

(iv) اوس هم په افغانستان کې پرمختیایي اړتیاوې په پراخه پیمانه شته دي. دپراخه غربت او بشري پرمختیا شاخصونه اوس هم په ټیټه کچه پاتې دي. په ځانګړې توګه دغلودانو له اړخه دپرځان بساینې (خودکفایي) اندازه،دکرنې په سکټور کې له کتنې وړ پانګې اچونې سره سره اوس هم ډیره ټیټه او دنامناسبو نړیوالو نرخونو ترګواښ اوتهدید لاندې ده. سربیره پردې له ګاونډیو هیوادونو څخه دغنمو په واردولو کې ستونزې دغذایي مواد مکرر کمښت په یوواقعي ګواښ بدلوي. دروغتیا، ښوونې او روزنې په برخو کې له بریالیتوبونو سره سره بیاهم دلاس رسۍ او کیفیت په هکله خالیګاوې شتون لري، چې باید هغو ته رسیدنه او ورته پاملرنه وشي. دنړۍ دهیوادونو په پرتله بریښنا ته لاس رسي او س هم په ډیره ټیټه کچه کې واقع ده او همدارنګه د کلیوالي حاصل ورکولو دزیاتوالي او ښاري ژوند په کیفیت کې دښه والي له پاره باید ډیر کارونه ترسره شي.په داسې حال کې چې خصوصي سکټور شته او په ځینو برخو کې دپرمختیا په حال کې هم دی، خو ډیر لږ او غیر رسمي دی او دهغې ودې له پاره یې، چې افغانستان ورته اړتیا لري، یو ربښتیني خوځنده او متحرك ځواك نه دی برابر کړی. په عمومي ډول په افغانستان کې پرمختیایي بهیر اوس هم کمزوری، ځنډمن او لړزنده دی او دنړیوالې ټولنې په پانګې او پروګرامونو پورې په فوق العاده توګه تړاو لري.

(v) په اوس وخت کې مشخص فرصتونه شته دي. هغه تګلاره(ستراتیژی) چې دامریکا متحده ایالتونو په دې وروستیو کې په سیاسي ډګر کې دافغانستان له پاره، په هغې غونډې کې چې دمارچ په میاشت کې په هاګ کې جوړه شوی وه، اعلان کړه، د نړیوالې ټولنې دپیاوړې تائید وړ وګرځیده او داکار ددې سبب شو چې افغانستان ته دنړیوالې ټولنې پاملرنه زیاته شي. دافغانستان ستونزو اوننګونو (چلینجونو) ته، چې سیمه ییزو شرایطو ته پاملرنه غواړي، ډیره توجه وشوه. او همدغه له سیاسي، امنیتي او پرمختیایي مفهوم څخه ژور او دقیق درك، چې ددولت جوړولو په پیاوړتیا کې له ستراهمیت څخه برخمن دی، په بشپړه توګه روښانه شو. په افغانستان کې

نړیوال بانک
له بي وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

## د افغانستان له پاره د نړیوال بانک د مؤقتي تګلارې د سند لنډیز
## ۱۳۸۸ ــ ۱۳۹۰ هـ. ش(۲۰۰۹ـ ۲۰۱۱م)

دولس مشرۍ ټاکنې او په راتلونکي کال کې پارلماني ټاکنې، که چیرې په سمه توګه اداره او په پراخه پیمانه دمنلو وړوګرځي، دافغانستان له نوې ادارې سره به داصلاحاتو دلومړیتوبونو په اړه دنویو خبرو او بحث ښه موقع او فرصت برابرکړي. دغو فرصتونو ته دځواب ویلو له پاره اوس افغانستان له داسې مهارتونو او تجربو څخه برخمن دی،چې له هغو څخه په کار اخیستنې سره کولی شي پرمختیایي بهیر چټك او خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي. په دغو تجربو او مهارتونو کې: دافغانستان دبیارغونې دصندوق(ARTF) له لارې دملي بریالیو او اغیزناکو پروګرامونو له پاره منظم او مسجم ملاتړ، دوزرات په کچه قوي رهبري، چې پخپله افغانان د چارو واکی په لاس کې لري او د سیمه ییزو ادارو د ظرفیت لوړتیا شامل دي، چې دا ټول کولی شي د ادارې د پیاوړتیا او له ښکته څخه پورته د حساب ورکولو له پاره وکارول شي.

(vi) اوس له افغانستان سره دمرستې له پاره دنړیوال بانك دګروپ ستراتیژیکو موخو دکتنې  او دافغانستان دولت، خلکو او تمویلونکی ټولنې ته دنړیوال بانك دګروپ دتګلارې  دتصریح او څرګندولو مناسب وخت دی. نړیوال بانك په ترلاسه شویو بریالیتوبونو کې ونډه لرلې او له دولت او تمویلونکو سره فعال ګډون یې یو ډول ساتلی دی. د تیرې مؤقتي تګلارې سند (ISN) تجربې څرګندوي هغه پرمختیایي موخې او پایلې چې زموږ د مرستندویه پروګرامونو له ملاتړ څخه برخمنی وی، د۱۳۸۷ لمریز کال د جوزا (۲۰۰۸ م کال دجون)  د میاشتې دافغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې سره یې سمون او مطابقت درلود. ټول وسایل او دفعالیتونو څرنګوالی له چاپیریال سره متناسب وو او له ستونزو او چیلنجونو سره دمقابلې له پاره یې په ستونزمنو شرایطو کې وده او تکامل کړی دی.

(vii) دمؤقتي تګلارې په موده کې د نړیوال بانك ستره موخه او  هدف به دهغه پرمختګونو له چټکتیا او دوام څخه عبارت وي، چې ددولت جوړولو او خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې ترسره شوي او دا دواړه عنصره د دولت د حاکمیت د پیاوړتیا او د اقتصاد د ښه والي له پاره مهمه لاره چاره برابروي. بانك به له دې لارې دافغانستان ددولت دپیاوړي کیدو موخې ته په رسیدو کې ونډه ولري، ترڅو دولت وکړای شي خدمتونه په ښه اوغوره توګه وړاندې کړي ، دخلکو امنیت تامین او دهغو دحقوقو او فرصتونو ساتنه وکړي. دبانك ګروپ دنوې مؤقتي تګلارې د سند په عملي کیدوکې په غوراوي او ټاکلي توګه عمل کوي او له هغو فرصتونو څخه به استفاده وکړي چې ددولت جوړولو او حکومت دمالکیت په چوکاټ کې رامینځته کیږي. په ځانګړې توګه،موږ به په هغو ساحو کې دخیل او ونډه وال شو چې په هغو کې اصلاحاتو ته دمتمایلې لاربښوونې او رهبرۍ نښې نښانې موجودې وي. په هغه ځای کې چې وکړای شو دهځونې او نفوذ له وسایلو څخه په کار اخیستنې سره دنورو مرسته او ملاتړ وکړو او په هغه ځای کې چې دوروسته پروګرام له پاره دفعالیتونو دچوکاټ درامینځته کیدو فرصتونه موجود وي، بانك له دولت سره دکار کولو په اړه ،چې هغه له بانك څخه غوښتنه وکړي، څو په ملي پروګرامونو، لکه: کرنه، اوبه لګول او دملي پیوستون دپروګرام دوروسته دورې دپیل کولو له پاره ،چې نور به له هغه څخه ملاتړوکړي، دخپلو فعالیتونو دچوکاټ په طرحه کولو او رامینځته کولو سره ټاکونکی نقش او ونډه ترسره کړي.

(viii) په پام کې دی چې د نړیوال بانک ګروپ دغه انعطاف منونکي او د اجراء وړ فعالیتونه د مخکینی تګلارې سره د ورته او مشابه ستراتیژیکی ارکانو او لارو چارو لاندې د استفادې وړ ګرځي: (I) داستوګنو یا هیوادوالو په وړاندې ددولت دحساب ورکولو دظرفیت لوړتیا،(II) دکلیوالي اقتصاد وده او پرمختیا(III) دخصوصي سکټور دودې ملاتړ. همدارنګه نړیوال بانک به له خپلې پوهې او تجربې څخه په استفاده د دولت او اړونده خواووسره ستونزو ته درسیدنې او دسیمه ییزې همکارۍ درامینځته کولو په شمول دهیواد دپرمختیا په لاره کې داوږد مهاله فرصتونو دتګلارو او مناسبو لارو چارو په هکله د نظر دیووالي رامینځته کولو کې مرسته او ملاتړ وکړي.

(ix) په افغانستان کې د فعالیتونو د ترسره کولو شرایط او چاپیریال خوځنده او په بدلون کې دی او په دې معنا دی چې دمؤقتي تګلارې سند دهغه څه په وړاندې، چې واقع کیږي، دیوې انعطاف منونکی وسیلې په توګه پاتې کیږي. دغه مؤقته تګلاره به نړیوال بانك او دولت دواړه ددې جوګه کړي چې دناڅاپه منو اوستونزمنو شرایطو په وړاندې هم انعطاف مننه وساتي او کیدای شي چې دهیواد دمرستندویه تګلارې له پاره ، نظر دې ته چې شرایط څه ډول وده او پرمختیا مومي، بنسټ او اساس رامینځته کړي. حکومت چلول او دښځو او نرو دحقونو د برابرۍ (جندر) چاپیریال به دهر رکن په جوړښت کې موجود وي.

(x) د افغانستان ورځنۍ پیښې څرګندوی چې له نا امنۍ او  همدارنګه له مالي فساد څخه را مینځته شوی خطرونه د نړیوالی ټولنې د ورځ تر ورځ زیاتیدونکې پاملرنې او په نوموړو برخوکې د کتنې وړ برمختګونو سره سره هم په ستره کچه اوبنه شتون لري. او س هم دسیاسي او امنیتي شرایطو دخرابوالي او کړکیچن کیدو احتمال شته. د نړیوال بانك پروګرامونو تطبیق او پلي کیدل به دهغو ستونزو ،خنډونو او فرصتونو په وړاندې، چې رامینځته کیږي، په دوامداره توګه بررسي او څیړل کیږي.